شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دعوت از ۲۰۰ تاجر و سرمایه‌گذار افغان برای حضور در نمایشگاه بین‌المللی هند

رئیس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان، در دیدار با مسئول توسعه تجارت هند، راه‌های تقویت روابط تجارتی و سرمایه‌گذاری میان دو کشور را مورد بحث و بررسی قرار داد. اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان، با پخش خبرنامه‌یی می‌گوید که در این دیدار، دو طرف بر افزایش حضور شرکت‌ها و تاجران افغان در نمایشگاه‌های بین‌المللی، گسترش همکاری‌های اقتصادی و توسعه ارتباطات مستقیم میان بخش‌های خصوصی افغانستان و هند، تأکید کردند. مسئول توسعه تجارت هند، ضمن اعلام آمادگی کشورش برای گسترش همکاری‌های اقتصادی با افغانستان، اظهار داشت که هند به‌صورت رسمی از افغانستان برای شرکت در نمایشگاه بین‌المللی تجارت هند، دعوت خواهد کرد و زمینه حضور هیئتی متشکل از حد اکثر ۲۰۰ تاجر و سرمایه‌گذار افغان را در این رویداد بزرگ تجارتی فراهم می‌سازد. در این نشست، دو طرف توسعه همکاری‌های تجاری، افزایش فرصت‌های سرمایه گذاری و تقویت تعاملات میان تاجران و سرمایه‌گذاران دو کشور را برای رشد مبادلات اقتصادی و تحکیم روابط دوجانبه مهم ارزیابی کردند. نمایشگاه بین‌المللی تجارت هند، از بزرگ‌ترین رویدادهای اقتصادی و تجارتی منطقه به شمار می‌رود و حضور گسترده تاجران افغان در آن می‌تواند فرصت‌های تازه‌ای را برای معرفی محصولات افغانستان، جذب سرمایه‌گذاری و گسترش بازارهای صادراتی کشور فراهم کند.

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۱ ګڼه / شنبه د محرم‌الحرام ۱۱مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ٦مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جون ۲۷مه ۲۰۲٦ میلادي

د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې ۹۱ کیلومتره پایپونه نصب شوي

په افغانستان کې د تاپي سترې پروژې له پرمختګ سره هممهاله د هرات ولایت د رباط سنګي ولسوالۍ په سیمه کې د قرآنکریم د ختم مراسم د هرات د والي شیخ مولانا اسلام جار، علماوو، قومي مشرانو، سوداګرو، د تاپي پروژې د مسئولینو او د ترکمنستان د ماري ولایت د علماوو او مشرانو د پلاوي په ګډون ترسره شول. د دغو مراسمو په څنګ کې، د هرات والي شیخ مولانا اسلام جار د هرات ولایت له یو شمېر علماوو، متنفذینو او قومي مشرانو او همدارنګه د ترکمنستان د ماري ولایت د علماوو او مشرانو له پلاوي سره یوځای د تاپي پروژې د عملي چارو او پرمختګ بهیر له نږدې وکوت. د هرات والي شیخ مولانا اسلام جار، تاپي پروژه د هېواد له مهمو اقتصادي او بنسټیزو پروژو څخه وبلله او ویې ویل چې دا پروژه به د اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا لپاره مهم رول ولوبوي. د هرات والي زیاته کړه چې په هرات ولایت کې د دې پروژې چارو د پام وړ... ۳مخ

قزاقستان یو متخصص طبي پلاوی افغانستان ته رالېږلی

د قزاقستان د روغتیا وزارت ویلي، چې د درملنې او جراحي خدمتونو وړاندې کولو لپاره یې یو متخصص طبي پلاوی افغانستان ته استولی دی.

په دې ډله کې د بېلابېلو برخو متخصصین شامل دي چې په سیمه‌ییزو روغتونونو کې د پېچلو ناروغانو درملنه او جراحي عملیات ترسره کوي.

د دې ماموریت تمرکز د سختو ټپونو او د حرکتي سیستم د پیدایښتي ستونزو لرونکو ناروغانو پر درملنه دی.

قزاقستان همدارنګه افغانستان ته د ۳۱۸.۸ ټنه بشري مرستو د لېږد خبر ورکړی او ویلي یې دي چې دا د تېر کال له زلزلې وروسته د دوی دویم ستر بشري ماموریت دی.

د لوړو زده‌کړو وزیر:

محصلین دې خپلې زده‌کړې د دوکتورا تر کچې ورسوي

د لوړو زده‌کړو وزیر، شیخ نداء محمد ندیم له لغمان پوهنتون څخه د محصلینو فراغت غونډې ته ویلي چې وطن به لوستي او مسلکي کسان ابادوي او فارغ‌شوي محصلین دې خپلې زده‌کړې د دوکتورا تر کچې لوړې کړي.

د خبرپاڼې له مخې ښاغلي ندیم د علم ارزښت ته په اشارې... ۳مخ

د افغان سوداګرو په ګډون؛

د چین-اوراسیا نندارتون پرانیستل شو

د «چین-اوراسیا ۲۰۲٦» نندارتون د چین په ارومچي ښار کې پرانیستل شو، چې افغانستان هم په کې له ۳۰ څخه د زیاتو غرفو په جوړولو ګډون کړی دی. په دغو غرفو کې غالۍ، زعفران، وچه مېوه او قېمتي ډبرې نندارې ته وړاندې شوې دي.

افغان سوداګر وايي: دغه نندارتون د هېواد د تولیداتو د معرفي... ۳مخ

بلخ کې د درملو یوه کارخونه ۴۸ ډوله درمل تولیدوي

په بلخ کې د درملو یوه تولیدي کارخونه هره ورځ د شاوخوا ۲۰ زره ډبیو درملو د تولید ظرفیت لري او دا مهال ۴۸ ډوله درمل تولیدوي.

د کارخونې مسئولین وايي: هڅه کوي د کورني بازار اړتیاوې پوره او د تولید کچه نوره هم لوړه کړي. د یادې کارخونې مشر زمرک شینواری وايي: اوسني کورني تولیدات د هېواد نږدې ۵۰ سلنه د درملو اړتیا پوره کوي او موخه یې دا ده چې دا کچه ۸۰ سلنې ته ورسوي. نوموړي د تولید د پراختیا لپاره د ځمکې، برېښنا او نورو اسانتیاوو د برابرولو غوښتنه کړې ده. د بلخ د صنعت او سوداګرۍ ریاست هم د کورني صنعت د ملاتړ او د صنعتکارانو د ستونزو د حل ډاډ ورکړی دی.

سر مقاله

د عاشورا د ورځې اهمیت؛ د تاریخ او سنتو په رڼا کې!

د کربلا پېښه د اسلامي تاریخ له سترو او دردناکو پېښو څخه ده، چې پکې د رسول الله ﷺ د زړه ټوټه، د جنت د ځوانانو سردار، سیدنا حضرت حسین رضي الله عنه، له خپلو وفادارو ملګرو سره په مظلومانه ډول شهید شو.

څرنګه چې دا پېښه د محرم الحرام میاشتې په لسمه نېټه، یعنې د عاشورا په ورځ رامنځته شوې ده، نو ځینې کسان داسې ګومان کوي چې د محرم الحرام میاشت او د عاشورا ورځ یوازې د همدې پېښې له امله سپېڅلتیا او اهمیت لري. حال دا چې حقیقت بل ډول دی. د کربلا پېښه په ٦۱ هجري کال کې رامنځته شوې، خو د محرم الحرام میاشت او د عاشورا ورځ له دې پېښې ډېر پخوا د فضیلت، برکت او ځانګړي مقام څښتنې وې.

له همدې امله اړینه ده چې د عاشورا ورځې د فضیلت او سپېڅلتیا د هغو لاملونو په اړه ځانونه پوه کړو چې د کربلا له پېښې څخه وړاندې ثابت او څرګند وو.

الله تعالی فرمايي: ژباړه: «بېشکه د الله تعالی په نزد د میاشتو شمېر دولس دی او له هغو څخه څلور میاشتې حرامې او سپېڅلې دي.»

محرم الحرام له همدغو څلورو سپېڅلو میاشتو څخه یوه ده او همدا د دې میاشتې د فضیلت او ځانګړي مقام لپاره کافي دلیل دی.

همداراز، عاشورا هغه مبارکه ورځ ده چې الله تعالی پکې حضرت موسیٰ علیه السلام او بني اسرائیلو ته له فرعون او د هغه له لښکر څخه نجات ورکړ او فرعون یې غرق کړ. له همدې امله دا ورځ د پخوانیو امتونو په نزد هم د درناوي او اهمیت وړ وه.

د عاشورا ورځې بل فضیلت د هغې روژه ده. د اسلام په لومړیو کې، د رمضان له فرض کېدو وړاندې، د عاشورا روژه پر مسلمانانو لازمه وه، خو کله چې د رمضان روژه فرض شوه، د عاشورا روژه سنت او مستحب پاتې شوه. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ژباړه: «دا د عاشورا ورځ ده، الله تعالی یې روژه پر تاسو فرض کړې نه ده؛ نو څوک چې غواړي روژه دې ونیسي او څوک چې نه غواړي، پرې دې یې ږدي.» ۲مخ

چهار بند کوچک آب با هزینه ۳۰۰ هزار دالر در کندهار ساخته می‌شود

کار ساخت چهار بند کوچک آب در ولسوالی‌های سپین‌بولدک، ارغستان، خاکریز و ارغنداب ولایت کندهار آغاز شده است.



هزینه ساخت این بندها ۳۰۰ هزار دالر امریکایی است که از سوی ریاست احیا و انکشاف دهات تأمین می‌شود. هدف از اجرای این پروژه‌ها، کاهش پیامدهای خشکسالی و مدیریت بهتر منابع آب عنوان شده است.

دوست‌محمد سعید، رئیس احیا و انکشاف دهات ولایت... ص۳

د ۹۸ میلیونو افغانیو په لګښت د ۳ جوماتونو جوړېدل

د ټولګټو چارو وزارت ویلي: د غزني، کندهار او هلمند ولایتونو کې د درېیو جوماتونو د جوړولو کار د څه باندې ۹۸ میلیونو افغانیو په لګښت بشپړ او پرانیسته یې وشوه. د یاد وزارت په خبرپاڼه کې راغلي: یاد جوماتونه د دوو کلونو په موده کې د غزني په آب‌بند، د کندهار په میوند او د هلمند په نادعلي ولسوالیو کې جوړ شوي دي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، هر جومات په درې جریبه ځمکه کې جوړ شوی، چې په یو وخت د ۳۰۰ تنو (۱۷۰ نارینه او ۱۳۰ ښځینه) لمونځ‌کوونکو د ځایولو ظرفیت لري. ۳مخ

۳۴۴ تن افغان از زندان‌های پاکستان آزاد شدند

وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان خبر داده که ۳۴۴ شهروند افغانستان از زندان‌های پاکستان آزاد و به کشور برگشته‌اند.

این وزارت با نشر خبرنامه‌ای گفته که این افراد در جریان هفته جاری از طریق گذرگاه‌های سپین‌بولدک در کندهار و تورخم در ننگرهار به کشور بازگشته‌اند.

بربنیاد معلومات وزارت امور مهاجرین افراد آزادشده به دلیل نداشتن اسناد اقامت در پاکستان زندانی شده بودند.

پکتیکا کې شپږ ښوونځیو ته معیاري ودانۍ جوړې شوې

په پکتیکا ولایت کې د ٦۴ میلیونو افغانیو په لګښت شپږ ښوونځیو ته معیاري ودانۍ جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي. دغه ښوونځي د یاد ولایت په شپږو ولسوالیو کې د یونیسف په مالي ملاتړ او د وایفاء موسسې له لوري جوړ شوي دي. د مسئولینو په وینا، هره ودانۍ شپږ درسي خونې، یوه اداري خونه، د پاکو اوبو سیستم، سولري برېښنا او نورې اړینې اسانتیاوې لري.

چارواکي وايي: د دې پروژې موخه د زده‌کړو د کیفیت لوړول او د زده‌کوونکو لپاره د خوندي او معیاري زده‌کړیز چاپېریال برابرول دي.

د مخلصو کورنیو پانګوالو او تجارانو پر مټ د هېواد ابادي ۲

د ایران په وړاندې د امریکا جګړه یېز دریځ نړیوالو ته د منلو وړ نه دی ۲

د بزګرانو ملاتړ ته باید جدي پاملرنه وشي! ۲

د بزګرانو ملاتړ ته باید جدي پاملرنه وشي!

حمزه حسيني

بزګري کـه لـه يـوې خـوا د سيمې په سمسـورتيا او سرسـبزۍ کـې مهمـه ونـډه لـري، لـه بـل پلـوه د هېـواد د عوائـدو پـه زياتوالـي کـې هـم مهم رول لـري، بزګـري ده چې په مرسته يې خلکـو تـه د قـدرت لـه کرشـمو څخـه ډکې رنګارنـګ ويټامين لرونکـې مېـوې، غلـې، دانـې او پـر سـبزيجاتو سربېره طبي بوټـي عرضـه کېـږي، تـر څـو د خلکـو اړتيـا وربانـدې پـوره او د دې سـترو نعمتونـو لـه بېلابېلـو خوندونـو څخـه برخمـن شـي.

بزګـران پـه خپـل زحمـت او خولـو تويولـو سـره د خپـل اهـل او عيـال لپـاره حلالـه روزي ګټـي، ځـان پـر خلکـو بـوج نـه، بلکـې د خلکـو د اړتيـاوو پـوره کولـو تـه يـې متـې رابډوهلـې وي، دوی شـپه او ورځ زيـار باسـي چـې د موسـم پـر مهـال يـې د خپلـو فصلونـو ښـه سـاتنه او اوبـه خـور وشـي، دوی د ګرمـۍ او يخنـۍ کـوم بـاک نـه لـري او کوښـښ کـوي چـې څـه ډول يـې کښـت ښـه وده وکـړي، تـر څـو ښـه حاصـل تـرې تـر لاسـه کـړي.

پـه هېـواد کـې د بزګـرۍ پـر وړانـدې ننګونـې او سـتونزې لا هـم شـتون لـري، کـه يـې د حـل پـر لارو چـارو غـور وشـي؛ نـو نـه يـوازې دا چـې بزګـران بـه خـوښ شـوي وي او لـه برګـرۍ څخـه بـه جـدي ملاتـړ شـوی وي، بلکـې د فصـل حاصـلات بـه يـې څـو برابـره زيـات شـوي وي او هېـواد بـه يـې د غلـو او دانـو لـه پلـوه د ځـان بسـيايني پـر لـوري ګامـزن کـړی وي.

پـر داسـې مهـال چـې نـړۍ د اقليمـي بدلـون لـه سـختو ګواښـونو سـره مـخ ده او هـر هېـواد هڅـه کـوي چـې لـه نويـو او عصـري الاتـو څخـه پـه ګټـې اخيسـتنې سـره د فصلونـو کرکيلـه تـر سـره کـړي او د اوبـه خـور منظـم سيسـتم ولـري، چـې لـه برکتـه يـې د اللـه تعالـی سـتر نعمـت (اوبـه) پـه ښـه توګـه مديريـت او لـه بـې ځايـه اسـراف څخـه يـې مخنيـوی وکـړي، سـره لـه دې چـې هېـواد کـې د اوبـو کچـه ورځ تـر بلـې ښـکته درومـي خـو بيـا يـې هـم اسـتعمال پـه بـې دريغـه ډول روان دی، کـه د فصلونـو اوبـه خـور پـه عصـري سيسـتمونو سـمبال شـي، څـه ناڅـه بـه د اوبـو لـه کمښـت څخـه پـه امـن شـو.

همدارنګـه بزګرانـو تـه پـه هېـواد کـې د عامـه پوهـاوي کـوم پروګـرام شـتون نـه لـري، تـر څـو دوی وکـولای شـي د خپلـو فصلونـو او کښـتونو د ناروغيـو د مخنيـوي پـه موخـه پـر وخـت مشـورې او تجربـې تـر لاسـه او درملنـه يـې وکـړي، زيـار اېسـتل پـه کار دي تـر څـو د رسـمي چينلونـو پـه مرسـته لـه سـيمې او نـړۍ څخـه د هېـواد بزګرانـو تـه اصلاح شـوي تخمونـه عرضـه او لـه نويـو تجربـو سـره يـې کرکېلـه ترويـج شـي.

بلـه لويـه سـتونزه داده چـې د ټـول کال لـه هڅـو وروسـته چـې کـوم حاصـل تـر لاسـه شـوی وي، پـه هغـه وخـت کـې يـې ارزښـت لـه نشـت سـره برابـر وي، چـې د بزګرانـو د اقتصـادي سـتونزې سـبب ګرځـي، کـه څـه هـم اسـلامي امـارت هڅـه کـوي تـر څـو د هېـواد حاصلاتـو تـه سـيمه ييـز او نړيـوال بازارونـه ومومـي، خـو لا هـم ډېـرو هڅـو تـه اړتيـا ده چـې سـړې خونـې ډېـرې شـي او د سـبزيجاتو د ښـې سـاتنې او ذخېـره کولـو لپـاره تـرې اسـتفاده وشـي.

بايـد يادونـه وکـړم چـې د هېـواد ورځپانـو، مجلـو او راډيويـي خپرونـو کـې بايـد د دې فـن مسـلکي وګـړو تـه وخـت ورکـړل شـي، تـر څـو پـه دوامـداره توګـه د بزګـرۍ پـر پياوړتيـا او ملاتـړ او حـل لارو يـې سـلا مشـورې وړانـدې او د هېـواد بزګرانـو تـه د هغـوی ممکنـې پوښـتنې ځـواب شـي او د خپلـو زده کـړو او تجربـو رسـالت پـه ښـه توګـه اداء او تـر سـره کـړي. پـه همـدې هيلـه.

د ایران په وړاندې د امریکا جګړه ییز دریځ نړیوالو ته د منلو وړ نه دی

حیات الله حلیم

د موضـوع د ښـه وضاحـت لپـاره بايـد لـه هرڅـه لومـړی دغـو اساسـي ټکوتـه اشـاره وکـړو، چـې ايـران تـه خپلـې نفتـي زېرمـې او لـه اسـرا ئيلـو سـره نـه پخـلا کېدونکـې دښـمني د دې سـبب شـوې چـې امريـکا د هسـتوي تسـليحاتو د لرلـو پـه پلمـه تـل داسـې بهانـې ورتـه ولټـوي چـې پـه هېـڅ منطـق موجـه دليـل نـه ورتـه جوړېـږي، د دې بېځايـه پلمـو ترڅنـګ امريـکا پـه عمـل کـې لـه کلونـو راهيسـې پـر ايـران داسـې اقتصـادي تعذيـرات هـم لګولـي چـې يـاد هېـواد د کانـي زېرمـو، پرېمانـه صنعتـي تاسيسـاتو او د عوايـدو د نـورو پرېمانه سـرچينو بـا وجـود د کرنسـۍ د ارزښـت پـه لحـاظ د يـوه بـې وزلـي هېـواد پـه بڼـه د نـړۍ د هېوادونـو ترمنـځ را څرګنـد شـي، چـې دا پـه هېـڅ وجـه مناسـب عمـل نـه و او نـه دی.

لـه ايـران سـره د امريـکا د ژورې عقـدې د ښـه وضاحـت لپـاره بيـا هـم لانـدې مثـال راوړو: څـه مـوده وړانـدې کلـه چـې د دوارو هېوادونـو ترمنـځ د اتومـي تسـليحاتو د کنتـرول پـه اړه د خبـرو اتـرو لـړۍ پيـل شـوه، تمـه وه چـې جوړجـاړي تـه سـره ورسـېږي، خـو امريـکا د خبـرو پـه بهيـر کـې يـو ناڅاپـه پرتـه لـه دې چـې نهايـي نتيجـه پـه ډاګـه شـي پـه ډېـره بيتابـۍ پـر ايـران موشـکي حملـه وکـړه، چـې دا يـې د پخوانـۍ کينـې لـه مخـې د هسـتوي تسـليحاتو د کنتـرول پـه خبـرو کـې د ښـکاره منافقـت روښـانه او څرګنـد مثـال ثابـت شـو، د دې بـې وختـه حملـې پـه تـرخ کـې د ايـران د مذهبـي رهبـر او د يـو شـمېر نـورو لـوړ رتبـه نظامـي منسـوبينو پـه ګـډون يـاد هېـواد تـه پرېمانـه ځانـي اومالـي زيانونـه واوښـتل، دا ولـې او وجـه يـې څـه وه ؟ دا عمـل خوهغـه وخـت مناسـب ښـکارېده چـې خبـرې لـه بـن بسـت سـره مـخ شـوې وای.

خـو بيـا هـم پـه پيـل شـوې جګـړه کـې امريـکا تـه لـه شـرم پرتـه بـل څـه پـه لاس ورنغلـل، ځکـه ايـران مجبـور شـو چـې پـه اسـرائيلو او منځنـي ختيـځ کـې د امريـکا پـر تاسيسـاتو داسـې ځپونکـي ګوزارونـه وکـړي چـې امريـکا يـې د ايـران لـه اړخـه هېـڅ توقـع نـه درلـوده، پـه نتيجـه کـې پـه منځنـي ختيـځ کـې امريکايـي تاسيسـاتو او د دغـه جانـي ابـر قـدرت لابـي ګرانـو تـه داسـې زيانونـه واوښـتل چـې امريـکا يـې د جنـګ لـه غځولـو بېـزاره کـړه ، نړيوالـو وليـدل چـې د امريـکا لـه ګواښـونو سـره سـره نـه يـوازې د ايـران رژيـم برحـال او سـرلوړی پـر ځـای پاتـې شـو، بلکـې امريـکا داسـې وارخطـا شـوه چـې جګـړه ييـز دريـځ يـې د ايـران پـه مقابـل کـې اوس داسـې نـرم شـوی چـې هېڅکلـه جګـړه ييـزه ژبـه نـه کاروي، ښـکاري چـې امريـکا کلکـه ماتـې خوړلـې وي، دلتـه نـه يـوازې د ايـران مقاومـت، بلکـې نړيـوال فشـارونه هـم د دې بېځايـه جګـړې پـه اړه پـر امريـکا زيـات شـول او امريـکا هـم نـوره وپوهېـده چـې لـه ايـران سـره جګـړه يـې نـوره پـه زيـان ده، د تحليلګرانـو پـه باورهـم دا جګـړه لـه پيـل څخـه بېځايـه وه، ځکـه لـه امريـکا سـره داسـې دلايـل نـه وو موجـود، چـې د ايـران پـه مقابـل کـې د امريـکا جګـړې تـه مشـروعيت ورکـړي. دا نـه يـوازې لـه يـوه آزاد ملـک سـره بېځايـه جګـړه وه او ده، چـې د منځنـي ختيـځ ټـول هېوادونـه يـې د ايـران پـر توغنديـو ګـډوډ کـړل او د بشـريت دښـمنان اسـرائيل يـې هـم ښـه مضبـوط وويشـتل، نـه يـوازې توغنديـز بريدونـه، بلکـې د ايـران لـه خـوا د هرمزتنګـي د بندښـت لـه املـه د تېلـو بيـې پـه ټولـو هېوادونـو کـې لـوړې او نړيـوال اقتصـاد تـه يـې کلـک زيانونـه واړول، نـو د يـوه هوښـيار او بېـدار ضميـر او وجـدان د قضـاوت پـر بنـا د دې اوښـتو زيانونـو ګنـاه د چـا غـاړې تـه تکيـه کېـدای شـي؟

طبيعـي ده چـې دا بـه د هغـه چـا ذمـه واري وي چـې د جنـګ پيـل تـه يـې عجلـه او تلوسـه درلـوده، خـو پـه نتيجـه کـې بيـا (لـر) او شـرمنده هـم شـو. عربـي هېوادونـو او د امريـکا اروپايـی متحدينوهـم نـه غوښـتل چـې دا جګـړه پيـل شـي خـو ټرمـپ سـرزوري وکـړه او پرتـه لـه دې چـې د پيـل شـوې جګـړې پـه اړه وروسـتی مثبـت يـا منفـي تحليلـي اسـتنباط ولـري، جګـړه يـې پيـل کـړه او پـه نتيجـه کـې اوس پـه داسـې تلـک کـې نښـتی چـې خلاصـون يـې تـرې نشـته، ټرمـپ پـه ښـکاره نـه يـوازې خپـل ملـت، بلکـې اروپايـي هېوادونـو تـه هـم خړمخـی پاتـې شـو، نوځکـه اوس نـوی وپوهېـده چـې لـه ايـران سـره د جګـړې اوږدوالـی بـه نـه يـوازې د امريـکا اقتصـاد تـه زيانونـه تکيـه کـړي، بلکـې پـه اقتصـادي لحـاظ بـه ټولـه نـړۍ نـوره هـم پسـې ګـډه وډه کـړي، لـه بـل پلـوه د روسـيې او چيـن ننـدارې هـم امريـکا دې تـه اړه کـړه چـې لـه احتيـاط څخـه کار واخلـي، د امريـکا پخوانـي متحديـن (ناټـو) پـه څرګنـده لـه ايـران سـره د امريـکا د جګـړې مخالفـه وه او ده، همدارنګـه امريکايـی ملـت هـم نـور لـه جګـړې بېـزار دی او د يـاد ملـک لـه جګـړه ييـز سياسـت څخـه ملاتـړ نـه کـوي. لـه بـل پلـوه امريـکا تـه څرګنـده شـوه چـې د جګـړې پـه اوږدوالـي کـې يـې ګټـه نشـته، نـو ځکـه يـې هڅـه وکـړه چـې د جګـړې لـه اوږدوالـي پـه داسـې کلماتـو ډډه وکـړي چـې مغلـوب هـم ثابـت نشـي، خـو د نـړۍ نظامـي دوکتوريـن بيـا پوهېـږي چـې امريـکا لـه ايـران سـره پـه جګـړه کـې کلکـه ماتـې وخـوړه او کـه پـه لانجـه کـې ځـان وښـوروي لا پسـې ډوبېـږي.

د مخلصو کورنیو پانګوالو او تجارانو پر مټ د هېواد ابادي

محمدامین حیدري

رښـتيا هـم امنيـت د اللـه تعالـی لـه لـوري يـو سـتر او بـې سـاری نعمـت دی. هـر چېـرې چـې امنيـت وي، هلتـه ژونـد، پرمختـګ، ابـادي، انسـاني مينـه، ورورولـي او عدالـت وي او د اللـه تعالـی د بندګـۍ لپـاره مناسـب چاپېريـال برابرېـږي.

پـه امنـه فضـا کـې انسـانان کـولای شـي خپـل اسـتعدادونه او پانګـې پـه ښـه توګـه وکاروي، سـتونزې پـه وخـت حـل او ټولنـه د پرمختـګ پـر لـور رهبـري کـړي. امنيـت هغـه بنسـټيز عامـل دی چـې اقتصـادي، سـوداګريزې او پرمختيايـي پـروژې پـرې وده کـوي. پـه امـن چاپېريـال کـې نـه ظلـم وي، نـه د چـا حـق تـر پښـو لانـدې کېـږي او نـه هـم د خلکـو سـر، مـال او عـزت لـه ګـواښ سـره مـخ وي. پـه لنـډه توګـه، امنيـت د هـر هېـواد د ابـادۍ او سـوکالۍ اساسـي شـرط دی.

للـه الحمـد، د اسـلامي امـارت لـه بيـا واکمنېـدو وروسـته پـه ټـول افغانسـتان کـې سراسـري او دادمـن امنيـت ټينـګ شـوی دی. اوس نـه د چـا سـر، مـال او عـزت تـه ګـواښ شـته او نـه هـم د تېـرو کلونـو د ناامنـۍ ډار او وحشـت پاتـې دی. همـدا امنيـت دی چـې کورنيـو او بهرنيـو تجارانـو او پانګوالـو تـه يـې د پانګونـې جرئـت ورکـړی او افغانسـتان تـه يـې پـام را اړولـی دی.

پـه تېـرو څلـورو- پنځـو کلونـو کـې مـو وليـدل چـې ګڼـو کورنيـو او بهرنيـو پانګوالـو پـه هېـواد کـې سـترې اقتصـادي او سـوداګريزې پـروژې پيـل کـړې دي. د بېلګـې پـه توګـه، څـو ورځـې وړانـدې د پکتيـکا ولايـت د ښـرنې پـه سـيمه کـې د لسـو ميليونـو ډالـرو پـه ارزښـت د يـوه لـوی سـوداګريز مارکېـټ د جوړېـدو چـارې پيـل شـوې. همـداراز پـه لوګـر ولايـت کـې د يـو ميليـون ډالـرو پـه لګښـت د کرومايټـو د پروسـس فابريکـه جـوړه شـوه، د زابـل ولايـت پـه مرکـز کلات ښـار کـې د يـو نيـم ميليـون ډالـرو پـه ارزښـت د يـوه سـوداګريز مارکېـټ د جوړېـدو کارونـه پيـل شـول او پـه خوسـت ولايـت کـې د معتادينـو د درملنـې لپـاره يـو خصوصـي روغتـون پرانيسـتل شـو.

د دغـو پـروژو ترڅنـګ نـورې مهمـې اقتصـادي پـروژې هـم روانـې دي؛ لکـه د لوګـر د عينـک مسـو کان پـروژه، د امـو سـيند د تېلـو اسـتخراج، د عزيـزي ګـروپ لـه لـوري د لـس زره ميګاواټـه برېښـنا د توليـد لپـاره د لسـو ميليـاردو ډالـرو پانګونـه او د هېـواد پـه بېلابېلـو سـيمو کـې د صنعتـي پارکونـو او لويـو لارو جـوړول. دا ټـول پرمختګونـه د ټينـګ امنيـت لـه برکتـه ممکـن شـوي دي.

اللـه تعالـی پـه دې سـختو او لـه فتنـو ډکـو شـرايطو کـې افغانانـو تـه درې سـتر نعمتونـه ورپـه برخـه کـړي دي، چـې نـن ورځ ډېـر هېوادونـه تـرې محـروم دي: امنيـت، اسـلامي نظـام او داسـې مشـران چـې د اللـه تعالـی لـه وېـرې ډک، د انبيـاءو وارثـان او پـر خپـل ولـس مهربانـه دي. دا بـې لـه شـکه سـتر او ارزښـتناک نعمتونـه دي.اوس يـې وخـت رارسـېدلی چـې د دې نظـام او مسـئولينو قـدر وکـړو او خپـل مخلـص تجـاران او پانګـوال ورونـه د هېـواد ابـادۍ تـه وهڅـوو. کورنـي پانګـوال بايـد د کرنـې، صنعـت، کانونـو، انـرژۍ او سـوداګرۍ پـه برخـو کـې خپلـې پانګونـې لا زياتـې کـړي. د هېـواد پـه ابـادۍ کـې ونـډه اخيسـتل نـه يـوازې د نـن ورځـې ګټـه ده، بلکـې د تاريـخ پـه زرينـو پاڼـو کـې بـه هـم ستاسـو نومونـه د ابـادۍ د اتلانـو پـه توګـه ثبـت شـي. راتلونکـي نسـلونه بـه ستاسـو خدمتونـه پـه درنـاوي يـادوي او درتـه بـه دعـاوې کـوي. راځـئ چـې ټـول پـه ګـډه لاسـونه سـره ورکـړو او خپـل هېـواد د اسـلامي امـارت پـه مشـرۍ ابـاد، پرمختللـی او سـوکاله کـړو. اللـه تعالـی دې زمـوږ هڅـې قبولـې کـړي او افغـان ولـس تـه دې تلپاتـې سـوکالي، پرمختـګ او نېکمرغـي پـه نصيـب کـړي. آميـن.

آغاز کار قیرریزی سرک...

این خط فرعی به‌طول ۲۱۰۰ متر و عرض ۱۸.۵ متر احداث می‌شـود که ۹ متر آن به مسیر عبور وسایط نقلیه اختصاص یافته و بخش متباقی شـامل اعمار آب‌روها، پیاده‌روها و گلدان‌های کنار سـرک می‌باشد. براسـاس برنامهٔ کاری، در حال حاضر قیرریزی ۹۰۰ متر این مسـیر جریـان دارد و هم‌زمـان کارهای مربوط به زیرسـاخت و بدنهٔ خاکی بخش‌هـای باقی‌مانده نیـز ادامه دارد تا برای مراحـل بعدی قیرریزی آماده شـود. با تکمیل این پروژه، سـهولت‌های ترانسـپورتی بیشتری برای شهروندان فراهم شده، ظرفیت عبور و مرور در این مسیر افزایش خواهد یافت و زمینهٔ بهبود جریان ترافیک و تقویت زیربناهای شهری در این بخش از شهر کابل بیش از پیش مهیا خواهد شد.

په افغانستان کې د تریاکو...

مـوادو په بازار کې يو سـتر بدلون ګڼي. پـه راپورونو کې دا هم ويل شـوي چې د نشـه‌يي توکو پر وړاندې د اسـلامي امـارت د جدي اقداماتو او بنديزونو له امله د هيروئينو نړيواله عرضه کمزورې شـوې او ځينې سـيمې د ترياکو له کمښـت سره مخ شـوې دي. د ملګرو ملتونو په وينا، دغه کمښـت په لنډ مهال کې د نړيوال بازار جوړښت اغېزمن کړی او ځينې شـبکې يې اړې کړې، چې بديلو موادو ته مخه وکړي. په ورته وخت کې، د اسـلامي امارت د کورنيو چارو وزارت او اړونـد ارګانونه ټينګار کوي، چې د نشـه‌يي توکو پر وړاندې مبارزه يـوازې امنيتي نه، بلکې يوه ټولنيـزه، ديني او اخلاقي هڅه ده چې په ټـول هېواد کې به په دوامداره توګه روانـه وي. چارواکي وايي چې د نشـه‌يي توکو د مخنيوي، له منځه وړلو او د روږدو کسـانو د درملنې لپاره هڅې منظمې شوې دي.

پروان کې ۲۲۱۸ کورنیو ته...

په لګښت؛ د اوبو رسولو د شـېږو شبکو د جوړولو چارې پيل شوې دي. ويل شـوي چې په يادو شـبکو کې د شېږو څاګانو کيندل، د پاکو اوبو د شـېږو ذخيرو جوړول، د ۴۱ کيلومترو په اوږدوالي د پايپ غځول، د ۱۴۱۳ شـيردانونو او د ۲۱۶ سولري تختو نښـلول شـامل دي.هېره دې نه وي، چې د يادو شبکو د تطبيق په بهير کې به لسـګونو کسـانو ته د کار زمينه برابره شي او به بشـپړېدو سـره به يې د مرکز او نومړيو ولسواليو ۲۲۱۸ کورنۍ د څښاک اوبو ته لاسرسی پيدا کړي.

گسترش قالین‌بافی در...

کرده که نشان دهنده افزایش ۲۰ درصد این صنعت در بغلان اسـت. وی افزود که این کارخانه ها بیشـتر در ولسوالی‌های دهنـه غـوری، دندغوری، دوشـی و اطراف شـهر پلخمری فعالیـت دارند. رئیـس اتحادیه قالین بافـان بغلان، افزود که قالین‌های تولیـدی این ولایت از کیفیـت مطلوب برخوردار بوده و بخشـی از آن به بازارهـای خارجی نیـز راه می‌یابد. وی گفـت که هـر متر قالین، نظـر به کیفیت و نـوع آن، بین ۱۵ تا ۳۰۰ دالر در بازارهای جهانی به فروش می‌رسـد. وی از نهادهای ذیربط و مسـئولان امارت اسـلامی خواست که به منظور رشـد و تقویت بیشـتر این صنعـت، از قالین‌بافان حمایت کنند. همچنان یک مسـئول ریاست صنعت و تجارت بغلان ضمن تأیید رشـد صنعت قالین بافـی در این ولایت، گفت که تلاش‌ها برای حمایت بیشـتر از قالین‌بافان و توسعه این صنعت ادامه دارد.

د عاشورا د ورځې اهمیت؛ د تاریخ او سنتو...

همدارنګـه رسـول اللـه ﷺ د دې ورځـې د روژې د سـتر اجـر پـه اړه فرمايلـي دي: ژبـاړه: «زه لـه اللـه تعالـی څخـه هيلـه لـرم چـې د عاشـورا ورځـې روژه بـه د تېـر يـوه کال ګناهونـه وبښـي.»

لـه دې ټولـو دلايلـو څخـه څرګندېـږي چـې د محـرم الحـرام او عاشـورا فضيلـت يـوازې د کربـلا لـه پېښـې سـره تـړل سـمه خبـره نـه ده، ځکـه دا مياشـت او دا ورځ لـه کربـلا ډېـر پخـوا د فضيلـت، برکـت او سـپېڅلتيا څښـتنې وې.

د دې ورځـې پـه هکلـه ځينـې نـور روايتونـه هـم شـته، لکـه د حضـرت آدم عليـه السـلام توبـه قبلېـدل، د حضـرت نـوح عليـه السـلام بېـړۍ جـودي غـره تـه رسـېدل، د حضـرت ابراهيـم عليـه السـلام لـه اوره ژغـورل، د حضـرت يوسـف عليـه السـلام لـه زندانـه خلاصـون او د حضـرت يعقـوب عليـه السـلام د سـترګو بېرتـه روغېـدل، خـو پـه قـوي مسـتندو دلايلـو ثابـت نـه دي، نـو ځکـه علمـاء هـم تـرې تېـر شـوي دي.

همـداراز، محـرم يـوازې د غـم مياشـت ګڼـل، تـورې جامـې اغوسـتل، يـا د واده او نـورو مشـروع خوښـيو پرېښـودل شـرعي بنسـټ نـه لـري. مسـلمانان بايـد د ديـن لارښـوونې لـه قرآنکريـم او سـنتو څخـه واخلـي، نـه لـه دودونـو او ناسـمو رواجونـو څخـه، ځکـه هـر هغـه عمـل چـې د ديـن لـه لارښـوونو پرتـه؛ نـوی رامنځتـه شـي، بدعـت بلـل کېـږي او رسـول اللـه ﷺ خپـل امـت د بدعتونـو لـه رامنځتـه کولـو څخـه منـع کـړی دی.

البتـه د کربـلا پېښـه د اسـلامي تاريـخ يـوه سـتره غميـزه ده او د سـيدنا حضـرت حسـين رضـي اللـه عنـه او د هغـه د وفـادارو ملګـرو شـهادت زمـوږ لپـاره د حق‌پالنـې، قربانـۍ، اسـتقامت او عـزت يـو تلپاتـې درس دی. د دوی سـپېڅلې قربانـي د اسـلامي تاريـخ پـه زرينـو پاڼـو کـې ثبـت ده او مسـلمانان تـرې د حـق او د ظالـم پـر وړانـدې د درېـدو پـه لاره کـې د ثابت‌قدمـۍ درس اخلـي.

لـه همـدې املـه مسـلمانان بايـد د محـرم الحـرام مياشـتې او پـه ځانګـړې ډول د عاشـورا ورځـې لـه فضيلـت څخـه ګټـه واخلـي. د عاشـورا روژه يـو مؤکـد سـنت دی او غـوره ده چـې لـه لسـمې ورځـې سـره نهمـه ورځ هـم روژه ونيـول شـي. رسـول اللـه ﷺ فرمايلـي دي: ژبـاړه: «کـه زه تـر راتلونکـي کال پـورې ژونـدی وم، نـو د محـرم نهمـه ورځ بـه هـم روژه ونيسـم.»

علمـاءو د همـدې حديـث پـه رڼـا کـې ويلـي چـې د نهمـې او لسـمې ورځـې روژه نيـول غـوره دي، ترڅـو لـه يهـودو سـره مشـابهت پاتـې نـه شـي او کـه څـوک نهمـه ورځ روژه ونـه نيسـي، نـو لـه لسـمې سـره دې يوولسـمه ورځ روژه ونيسـي.

نـو راځـئ چـې د محـرم الحـرام مياشـتې او د عاشـورا ورځـې حقيقـي ارزښـت وپېژنـو، د دې مبارکـې ورځـې روژه ونيسـو، لـه بدعتونـو او ناسـمو دودونـو څخـه ځانونـه وسـاتو او پـه حقيقـي معنـی د رسـول اللـه ﷺ د سـنتو پيـروي وکـړو، ترڅـو د دې مبارکـو ورځـو لـه برکتونـو او فضيلتونـو څخـه برخمـن شـو.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

شماره داوطلبی: AG/1405/NCB/W-806} و } HDSPDE/W-02/NCB/OB/1405

نوع قرارداد: بیع استصناع

لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه { ترمیم اساسی تعمیرهای مرکزی }بابت سال مالی ۱٤۰۵ اشتراک نموده، داوطلبان می توانند سافت کاپی شرطنامه مربوطه را از سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان (.https://tenders.ageops af/prs/bid-opportunities-notices?) و یا از آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان بدست آورند، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق اصول تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت } ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل {روز} دو شنبه{تاریخ {۱٤۰۵/۰٤/۲۲{به آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان- ناحیه ششم- کابل- افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه آفرگشایی به روز{ دو شنبه} مؤرخ{۱٤۰۵/۰٤/۲۲{ ساعت { ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل{ در}بلاک B ، منزل سوم – صالون جلسات مرستیالی مالی و اداری} تدویر می گردد.

قابل ذکر است که ارایه تضمین آفر لازم نمی باشد، اما داوطلبان مکلف اند که اظهارنامه تضمین آفر را مطابق فورم معیاری آن مندرج شرطنامه دقیق خانه پری، مهر و امضا نموده، ضم آفر خویش ارایه نماید

***

اعلان داوطلبی

موضوع: پروژه تهیه وخریداری (۱۴۹)قلم مواد و وسایل لابرتواری پوهنځی طب پوهنتون اسلامی بین المللی افغان:

پوهنتون اسلامی بین المللی افغان در نظر دارد. پروژه تهیه و خریداری (۱۴۹)قلم مواد و وسایل لابرتواری پوهنځی طب را از روش باز ملی به داوطلبی میسپارد آنعده از اشخاص و شرکت های محترم لوژستیکی واجد شرایط که خواهان اشتراک در پروژه فوق الذکر هستند خواهشمندیم غرض اخذ آفر بتاریخ ۱٤۰۵/٤/٦ الی تاریخ ۱٤۰۵/٤/۳۰ به مدت بیست پنج یوم به آمریت تدارکات و خدمات پوهنتون اسلامی بین المللی افغان شریف بیاورند تضمین اخذ میگردد.۳۰۳۱

***

نشر اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: اجاره دهی تانک تیل امارتی تانک تیل مخروبه ولسوالی لعل و سرجنگل ولایت غور.

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان، تانک تیل مخروبه ولسوالی لعل و سرجنگل ولایت غور ملکیت خویش را مؤقتاً بطور قرارداد به کرایه میدهد، افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرارداد را داشته باشند اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه درخواستی، شرطنامه داوطلبی تانک مذکور را در بدل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت غور و یا از معاونیت جایدادهای تجارتی و ثبت جوازهای شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی شهر کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشائی مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.))

***

نشر اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: اجاره دهی تانک تیل امارتی تانک تیل مخروبه ولسوالی دولتیار ولایت غور.

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان، تانک تیل مخروبه ولسوالی دولتیار ولایت غور ملکیت خویش را مؤقتاً بطور قرارداد به کرایه می‌دهد، افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرارداد را داشته باشند اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه درخواستی، شرطنامه داوطلبی تانک مذکور را در بدل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت غور و یا از معاونیت جایدادهای تجارتی و ثبت جوازهای شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی شهر کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشائی مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.))

***

موضوع: نشر اعلان مجدد داوطلبی اجاره دهی تانک تیل امارتی تانک تیل مخروبه ولسوالی تولک ولایت غور.

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان، تانک تیل مخروبه ولسوالی تولک ولایت غور ملکیت خویش را مؤقتاً بطور قرارداد به کرایه میدهد، افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرارداد را داشته باشند اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه درخواستی، شرطنامه داوطلبی تانک مذکور را در بدل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت غور و یا از معاونیت جایدادهای تجارتی و ثبت جوازهای شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی شهر کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشائی مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.))

***

اطلاعیه لیلام

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۷/٤/۱٤۰۵ لیلام نماید

شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.

۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ میگردد.

***

اطلاعیه لیلام

ریاست خدمات ریاست عمومی دفتر ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، تعداد (۱٤٤) عراده وسایط خویش را به تاریخ ۱٤۰۵/٤/۱۳ ساعت ۹:۰۰ قبل از ظهر به محضر هیئت مؤظف وزارت محترم مالیه لیلام می نماید. اشخاص انفرادی و شرکت های تجارتی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند، میتوانند در جلسه مزایده اشتراک نمایند و مبلغ (۱۵) فیصد پول تضمین طور پیشکی از نزد شان اخذ میگردد.

داوطلبان میتوانند جهت معلومات مزید به شماره (۰۷۹۹۳۷۵۵۵۵) و یا (۰۷٤٤٦۳۵۱۲٤) در تماس شوند.

آدرس: افغانستان، شهر کابل، سرک عمومی پلچرخی، ساحه پکتیاکوت، داخل کوچه جلب و جذب، کمپ وطن.

***

اطلاعیه تغییر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات رویا خلیج دارنده جواز شماره (٦٩۰۸) به اسم محترم عبدالصمیم فرزند عبدالباقی واقع ناحیه ۱۰ وزیر اکبر خان مقابل بانک ملی موقعیت دارد و میخواهد به ساحه سرک هفتم گولایی حصه اول گذر دهم ناحیه ۱۱ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد. ۲۹۸۰

***

اطلاعیه لیلام ۱۵ قلم اجناس داغمه جات

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۹/٤/۱٤۰۵ لیلام نماید

شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.

۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ میگردد.

***

اطلاعیه تغییر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات حاجی حبیب الله صافی به اسم محترم حبیب الله فرزند عبدالحنان ولدیت عبدالمنان واقع کوچه حوض مقابل وزارت عدلیه ناحیه ۶ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه سرک ریشخور شهرک لونگ ناحیه ۲۰ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۳۰۰۵

***

اطلاعیه لیلام

موسسه بین المللی پاملرنه (CARE) که دارای راجستریشن نمبر ۲۲ مورخ ۱۳۸۴/۶/۱۰ و ثبت راجستر ریاست انجوهای وزارت محترم اقتصاد می باشد به حیث یک موسسه غیر دولتی، غیر وابسته و بی طرف از سال ۱۹۶۱ بدین سو در افغانستان و به منظور پیشبرد پروژه های انکشافی و عرضه خدمات غیر انتفاعی فعالیت می نماید.

موسسه متذکره در نظر دارد به تعداد (۸۷۵) قلم تجهیزات استهلاک شده خویش را به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۰ به لیلام بگذارد.

افراد و اشخاص که خواهش اشتراک در پروسه را داشته باشند به آدرس : ناحیه ۱۵ ، قصبه، نبش سرک موتر فروشی ها عقب پوسته امنیتی. گدام های موسسه پاملرنه تشریف بیاورند و یا جهت معلومات بیشتر به شماره تماس ۰۷۷۳۴۷۰۰۳ به تماس شوند. ۲۹۹۵

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی نکاح خط به اسم بهزاد فرزند نور احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۲۹۸۷

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی عمده فروشی ادویه نوی المدینه واقع ناحیه اول به اسم نوید فرزند بهرام خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۲۹۸۹

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم به اسم عبدالقدیر فرزند عبدالمقیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۲۹۹۷

اعــلان داوطلبی

موضوع: نشراعلان داوطلبی تعداد(۱۵)باب دکاکین (۱) باب خبازی ودوباب اطاق کلینک سراپا (فارمسی ۳۵ سابقه)واقع مکروریان سوم وسوم الف !

شرکت امارتی حفظ ومراقبت مکرویانها دکاکین، خبازی وکلینک سراپا ذیلرا طورقراردادبرای مدت سه سال به کرایه میدهد:

شماره	نمبر دکان	موقعیت	مساحت به مترمربع
۱	خبازی	جوار وزارت شهر سازی و مسکن واقع مکروریان سوم	٦۹,۳
۲	اطاق	دوباب اتاق کلینیک سراپا (فارمسی ۳۵ سابقه)واقع مکروریان سوم	۳۹۲,٤۵
۳	G- ۱۸۰	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۲,۱۸
٤	G- ۱۸۱	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۲,۱۸
۵	G- ۱۸۲	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
٦	G- ۱۸۳	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۷	G- ۲۰۱	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۳,۲
۸	G- ۲۰۲	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۹	G- ۲۰٤	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۰	G- ۲۰٦	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۱	G- ۲۰۷	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۲	G- ۲۰۸	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۳	G- ۲۰۹	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۲,۱۸
۱٤	G- ۲۱۰	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۵	G- ۲۱۱	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱٦	G- ۲۱۲	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷
۱۷	G- ۲۱۳	چهل باب واقع مکروریان سوم الف	٤۰,۷

شرکت ها واشخاصیکه خواهش کرایه گرفتن دکاکین ،خبازی وکلینک سراپا را طورقرارداداشته باشند درخواست های خویش را به ریاست شرکت امارتی حفظ ومراقبت مکروریانها واقع بلاک (۲۳)مکروریان اول بسپارند شرطنامه را دربدل پرداخت قیمت معینه ازمدیریت عمومی تدارکات اخذ نموده وآفرهای خویش را طورسربسته ارایه نمایند وخودشان (۲۱)روزبعد ازنشراعلان غرض داوطلبی (آفرگشایی)به ساعت (۹:۳۰)قبل ازظهربه تالارشرکت مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند سه ماهه کرایه آفربطورتضمین نقدااخذ میگردد.

د ۹۸ میلیونو افغانیو په لګښت...

په خبرپاڼه کې زیاته شوې: یادو جوماتونو کې د وسایطو لپاره پارکینګ د ملا امام لپاره د استوګنې ځانګړې ځای، د نارینه او ښځینه لمونځ‌کوونکو لپاره د اوداسه او لمانځه جلا ځایونه جوړ شوي دي.

دا په داسې حال کې ده، چې د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم پر بنسټ، د ټولګټو وزارت له لوري د کابل - هرات لویې لارې په اوږدو کې د ۱۴ جوماتونو د جوړولو چارې پیل شوې دي.

د کندهار پوهنتون د محصلینو فراغت غونډې ته د عالیقدر...

راغلي، د جهاد نتیجه اعلاء د دین ده. اوس به د الله تعالی د دین د لوړوالي لپاره کوشش کېږي، د الله تعالی دین به حاکمېږي او د یادې غونډې ګډونوالو ته یې ویلي وو، چې تاسو په اسلامي نظام کې مهمه وظیفه پر غاړه لرئ، د اسلامي امارت له شرعي موقف څخه به دفاع کوئ، په فرمانونو، حکمونو، قوانینو او هدایاتو به یې خپله هم عمل کوئ او نور به یې هم عمل کولو ته رابولئ. همدا راز عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی ورعار» په خپل پیغام کې ویلي چې که اطاعت ونه شي، فتنې به سر را پورته کړي چې په نتیجه کې به یې اسلامي نظام له منځه ولاړ او د اسلام دښمنان به کامیاب شي؛ ځکه هر وخت چې خلکو د خپلو مشرانو بې اطاعتي کړې، په نتیجه کې یې ستر خلافتونه له منځه تللي دي. همدارنګه عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی ورعاء» په خپل پیغام کې د غونډې له ګډونوالو څخه غوښتي و، چې تاسو جهاد اینده نسلونو ته ورسوئ او اهمیت یې ورته ښکاره کړئ. دغه راز په یاده غونډه کې د کندهار والي محترم ملا شیرین اخند وویل چې الحمدلله اوس د پوهنتون او مدرسې ترمنځ واټن له منځه تللی دی او زیاته یې کړه چې مونږ د جهاد په دوره کې له پوهنتونونو څخه هم استشهادیان درلودل. محترم والي صاحب له فارغو شویو محصلانو وغوښتل چې له خپل علم څخه د دین، ملت او ملک د خدمت لپاره ګټه واخلي او د اسلامي او افغاني ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ، د ټولنې د پرمختګ لپاره هم خپل مسئولیت ادا کړي. د یادونې وړ ده چې د کندهار پوهنتون د ۱۱ پوهنځیو له بېلابېلو څانګو څخه په ۱۴۰۵هـ ش کال کې ۷۵۴ تنه محصلین فارغ شول.

پروژه انتقال برق ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان به ...

نصب و مونتاژ گردیده و ۷۷۲ تهداب از مجموع ۷۷۵ تهداب پایه‌ها نیز تکمیل شده است. بخش نخست این پروژه پیش از این تکمیل شده و کارهای بخش سوم آن از دشت‌الوان تا ارغندی توسط وزارت انرژی و آب در حال تطبیق است. پروژه لین انتقالی ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان از جمله پروژه‌های کلیدی و ستراتیژیک در بخش انرژی افغانستان به شمار می‌رود که با تکمیل آن، ظرفیت انتقال برق در کشور افزایش یافته و زمینه دسترسی بیشتر شهروندان به انرژی برق فراهم خواهد شد. شرکت برشنا افزوده است که با بهره‌برداری از این پروژه، چندین ولایت کشور به‌شمول کابل از برق پایدار و مطمئن بهره‌مند خواهند شد؛ اقدامی که می‌تواند نقش مهمی در توسعه اقتصادی، رشد فعالیت‌های صنعتی و بهبود خدمات عمومی در کشور ایفا کند.

چهار بند کوچک آب با ...

کندهار گفت: «این چهار بند کوچک آب، با هزینه‌ای حدود ۳۰۰ هزار دالر امریکایی، در ولسوالی‌های ارغنداب، سپین‌بولدک، ارغستان و خاکریز ساخته می‌شوند و در بخش‌های مختلف برای مردم سودمند خواهند بود.

همچنین، کار روی ساخت بندهای بزرگ نیز آغاز شده است تا بخش زراعت تقویت شود، میزان محصولات افزایش یابد و پیامدهای خشکسالی کاهش پیدا کند.» در همین حال، باشندگان روستای بیدک ولسوالی سپین‌بولدک از آغاز ساخت بند مهار آب در منطقه‌شان استقبال کرده‌اند. آنان می‌گویند خشکسالی در سال‌های اخیر به حدی شدید بوده که شماری از خانواده‌ها ناچار به ترک محل زندگی خود شده‌اند.

مسئولان می‌گویند: این بندهای مهار آب، زمینه ذخیره‌سازی و مدیریت بهتر منابع آبی را فراهم می‌کنند، آب مورد نیاز بخش زراعت را تأمین خواهند کرد، به افزایش محصولات کشاورزی کمک می‌کنند و دسترسی مردم به آب آشامیدنی سالم را نیز بهبود می‌بخشند.

د چین – اوراسیا نندارتون؛ ...

کولو، د صادراتي بازارونو د پراختیا او د نړیوالو سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره مهم فرصت دی. دوی له حکومته غوښتي، چې په راتلونکو کلونو کې د افغان سوداګرو د پراخ ګډون لپاره لا ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویلي: په دې نندارتون کې د افغانستان د ګډون موخه د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پراخول، د پانګونې د فرصتونو معرفي کول او د بهرنیو پانګونو راجلبول دي.

د افغانستان په خاوره کې...

پرمختګ کړی او د نل‌لیکې غځولو بهیر اوس د هرات ښار د ورودي دروازو تر سیمو رسېدلی دی. د هرات والي د تاپي پروژې پر مسیر د پرتو سیمو له مشرانو، امنیتي ځواکونو او ټولو ادارو څخه هم مننه وکړه. په همدې حال کې دتاپي پروژې عمومي رئیس محمد امانوف وویل: د پروژې عملي چارې په مناسبه چټکتیا رواني دي او تر اوسه شاوخوا ۱۳۰ کیلومتره مسیر هوار شوی او ۹۱ کیلومتره پایپونه نصب شوي دي. د ده په وینا د پروژې لپاره ټول اړین تجهیزات سیمې ته لېږدول شوي او د نصب بهیر یې په منظم ډول دوام لري.

محصلین دې خپلې زده‌کړې...

سپارښتنه کړې چې محصلین دې د خپل مسلک ترڅنګ اسلامي عقیده او ایمان ټینګ وساتي. د لوړو زده‌کړو وزارت همداراز لیکلي چې سږ کال د لغمان پوهنتون له انجنیري، کرنې، شرعیاتو، اقتصاد، ادبیاتو او د ښوونې او روزنې پوهنځیو څخه ۶۲۲ محصلین فارغ شوي دي.

یاد وزارت په یوه بله خبرپاڼه کې د فراه پوهنتون له څلورو پوهنځیو څخه د ۱۲۵ محصلینو د فراغت خبر هم ورکړی او ویل شوي : دغو محصلینو د یاد پوهنتون د شرعیاتو، اقتصاد، کرنې او ښوونې او روزنې پوهنځیو له یوولسمې دورې څخه د فراغت سندونه ترلاسه کړي دي. د سرچینې په وینا دا محصلین د ځانګړو مراسمو پرمهال د ځایي مسئولینو او د پوهنتون د استادانو له لوري ستایل شوي او هېواد ته د رښتیني خدمت سپارښتنې ورته شوې دي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Saturday 27 June 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1091

د کندهار پوهنتون د محصلینو فراغت غونډې ته د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» توصیې او سپارښتنې

کندهار پوهنتون کې د دغه پوهنتون د محصلانو فراغت غونډه کې د کندهار والي ملا شیرین اخند، د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» ورور الحاج شیخ الحدیث مولوي عبدالله صاحب، د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» د ځانګړو ځواکونو قوماندان او د کندهار امنیه قوماندان طالب حاجي مولوي صاحب او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست مرستیال، امیرالمؤمنین «حفظه الله» د فرامینو د تعقیب او نظارت رئیس طه مولوي صاحب، د سویل لوېدیځ زون د تمیز د عالي مقام رئیس شیخ مولوي شراف الدین صاحب، د ازموینو د عمومي اداري مرستیال شیخ مولوي رحیم الله حقاني صاحب، د ولایتي اداري یو شمېر رئیسانو، د کندهار پوهنتون رهبري پلاوي، د امارتي او خصوصي پوهنتونونو استازو، استادانو، فارغو شویو محصلانو او د هغوی د کورنی غړو ګډون کړی و. یادې فراغت غونډې ته د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی ورعاء» د دفتر ځانګړي استازي شیخ مولوي روح الله صاحب د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی ورعاء» له لوري رالېږل شوی پیغام ولوست، چې پکې راغلي وو: «اوس د مسلمانانو د اجتماعي کارونو مسئولیت الله تعالی موږ ته راسپارلی، اوس د دې ضرورت دی چې ټول پر دې باندې علم راولو چې د مسلمانانو سیاست، څنګه مخته یوسو، زده یې کړو او کوشش وکړو چې اسلامي حکومت پر شریعت، دین او اسلام باندې قائم کړو.» د پیغام په یوه بله برخه کې یې ویلي و، چې دغه اسلامي نظام د جهاد په نتیجه کې... ۳مخ

فطرت:
گزارش بنیاد هالندی درباره وضعیت کودکان افغان نادرست است

ملا حمدالله فطرت، معاون سخنگوی امارت اسلامی گزارش یک نهاد مدافع حقوق کودکان درباره وضعیت کودکان افغان را بی‌اساس خوانده است. این نهاد هالندی در گزارش شاخص حقوق کودکان ۲۰۲۶ اعلام کرده که افغانستان در میان ۱۹۴ کشور جهان در رتبه آخر ۱۹۴ قرار گرفته و از نظر رعایت حقوق کودکان بدترین کشور معرفی شده است. حمدالله فطرت گفته که امارت اسلامی به حقوق کودکان، آموزش، پرورش و صحت توجه ویژه دارد و قانون منع کارهای شاقه کودکان را به‌طور جدی تطبیق کرده است. او افزوده که از سوی ادارات مربوطه کودکان بی‌سرپرست از خیابان‌ها جمع‌آوری شده و در مراکز رسمی نگهداری و پرورش داده می‌شوند.

ملګري ملتونه:
په افغانستان کې د تریاکو کمښت د هیروئینو نړیوال بازار بدل کړی

د نشه‌یي توکو پر ضد د مبارزې د نړیوالې ورځې په مناسبت د ملګرو ملتونو په تازه راپور کې راغلي، چې په افغانستان کې د نشه‌یي توکو په وضعیت کې مهم بدلونونه په ډاګه شوي دي. راپور ښيي چې په هېواد کې د کوکنارو کښت او د اپینو تولید د پام وړ کم شوی دی. د راپورونو له مخې، په افغانستان کې د کوکنارو کښت له شاوخوا ۲۳۲ زره هکتاره (۲۰۲۲م کال) څخه په ۲۰۲۵م کال کې نږدې ۱۰ زره هکتاره ته راکم شوی، چې شاوخوا ۹۵ سلنه کمولی ښيي. همدا راز د اپینو تولید له ۶۲۰۰ ټنو څخه ۲۹۶ ټنو ته ټیټ شوی دی، چې د تېرو لسو کلونو له ټولو ټیټه کچه بلل کېږي. ملګري ملتونه دا بدلون د نړیوالو افیوني... ۲مخ

پروان کې ۲۲۱۸ کورنیو ته د اوبو رسولو ۶ شبکې جوړېږي

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، په پروان کې د اوبو رسولو د شپږو شبکو د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی. د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د پروان د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دغه ولایت په مرکز، بګرام او جبل السراج ولسوالیو کې د څه باندې ۴۲ میلیونو افغانیو... ۲مخ

پروژه انتقال برق ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان به مراحل پایانی رسید

کارهای بخش دوم پروژه لین انتقالی ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان در مسیر شبرغان تا دشت‌الوان به ۹۰.۸ درصد پیشرفت رسیده و این پروژه مهم زیربنایی به مراحل نهایی تطبیق نزدیک شده است. دفتر مطبوعاتی شرکت برشنا دیروز با نشر این خبر گفته است که از مجموع ۳۰۵ کیلومتر لین انتقالی این بخش، تاکنون ۲۰۲ کیلومتر آن تمدید شده است. همچنان ۷۴۷ پایه از مجموع ۷۷۵ پایه...ص۳

گسترش قالین‌بافی در ولایت بغلان

اتحادیه قالین بافان بغلان از افزایش ۲۰ درصدی صنعت قالین بافی در این ولایت خبرداده‌است. محمد عارف رئیس اتحادیه قالین بافان بغلان گفته‌است که در سال گذشته ۵۷۰ کارخانه تولید قالین در این ولایت فعالیت داشت، اما با بازگشت برخی مهاجران از کشورهای همسایه در این ولایت، حدود ۱۱۵ کارخانه جدید نیز به کار آغاز... ص۲

آغاز کار قیرریزی سرک فرعی لب‌جر - سرای شمالی در کابل

کار قیرریزی یک خط فرعی سرک لب‌جر الی سرای شمالی در مسیر سرک سلطان محمود غزنوی، پس از تکمیل طبقات اساسی آن، از سوی ریاست کار، حفظ و مراقبت شاروالی کابل آغاز گردید. ص۲

د لوګر د پوهنې ریاست ته نږدې ۱۳۷ زره ټوکه درسي کتابونه وسپارل شول

د پوهنې وزارت له لوري د لوګر د پوهنې ریاست ته د نوي ښوونیز نصاب نږدې ۱۳۷ زره ټوکه درسي کتابونه وسپارل شول، چې د مرکز او ولسوالیو په رسمي دیني مدرسو کې به پر زده‌کوونکو وویشل شي. د چارواکو په وینا، په دې پړاو کې له لومړي تر درېیم ټولګي پورې ۴۰ عنوانه درسي کتابونه په پښتو او دري ژبو چاپ شوي چې ټولیز شمېر یې ۱۳۶ زره او ۹۸۱ ټوکو ته رسېږي. ټاکل شوې دغه کتابونه د لوګر ولایت په ۱۹۳ رسمي دیني مدرسو کې وویشل شي، څو زده‌کوونکو ته د درسي موادو لاسرسی اسانه او د کتابونو اړوند ستونزې هوارې شي.

والسټرېټ ژورنال:
امریکا له خلیجي هېوادونو خپلې پوځي هډې اشغال شوي فلسطین ته لېږدوي

والسټرېټ ژورنال په یوه تحلیلي راپور کې ویلي، چې امریکا په منځني ختیځ کې د خپل پوځي حضور د بیا تنظیمولو پر طرحې کار کوي او دا احتمال ارزوي چې د خلیج له ځینو هېوادونو څخه خپلې یو شمېر پوځي هډې اسرائیلو (اشغال شوي فلسطین) ته ولېږدوي. راپور زیاتوي: د سپوږمکۍ انځورونه ښيي چې په بحرین کې د امریکا د له ټولو مهمې سمندري پوځي هډې د قوماندې ودانۍ، راداري سیستمونه او پوځي تأسیسات په شدت زیانمن شوي دي. والسټرېټ ژورنال ویلي: د دغې پوځي هډې د بیارغونې لګښت شاوخوا ۴۰۰ میلیونه ډالره اټکل شوی دی. یاد ژورنال دا هم لیکلي، چې امریکا په بحرین کې د خپلې پوځي اډې د بیارغونې تر څنګ په کویټ او سعودي عربستان کې د خپل پوځي حضور د کمولو امکان هم ارزوي.

قربانیان زمین‌لرزه‌های مرگبار در ونزویلا به ۲۳۵ تن افزایش یافت

مقام‌های ونزویلا، اعلام کرده اند که شمار قربانیان زمین‌لرزه‌های مرگبار در این کشور به ۲۳۵ تن افزایش یافته است. کارلوس آلوارادو، وزیر بهداشت ونزویلا، با شریک‌کردن این آمار گفته است که شماری از افراد در هنگام انتقال به مرکزهای درمانی هیچ نشانه‌ی حیاتی نداشته و شماری دیگر آنان در مسیر و هنگام رسیدن به مرکزهای درمانی جان باخته اند. نگرانی‌ها از افزایش آمار قربانیان وجود دارد؛ زیرا شماری از افراد همچنان ناپدید اند و عملیات نجات در مناطق زلزله‌زده ادامه دارد.

له افغانستان څخه شړل شوی وروستی امریکایي پوځي له دندې ګوښه کېږي



راپورونه وایي: د امریکا د جګړې وزارت له افغانستان څخه وروستی شړل شوی امریکایي پوځي، جنرال کریسټوفر ډوناهو له دندې ګوښه او تقاعد کوي. ویل شوي، ډوناهو دا مهال په اروپا او افریقا کې د امریکا د ځمکنیو ځواکونو د قوماندان په توګه دنده ترسره کوي. د یادونې وړ ده، چې دغه امریکایي پوځي جنرال د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې د وروستي پوځي په توګه د کابل هوایي ډګر له لارې له افغانستان څخه پښې سپکې کړې وې.

تنگه هرمز؛ رویارویی تازه ایران و امریکا

سپاه پاسداران ایران هشدار داده است که هرگونه عبور از تنگه هرمز بدون مجوز، «غیرقابل قبول» بوده و با برخورد مواجه خواهد شد. همزمان مارکو روبیو، وزیر خارجه امریکا، گفته است: دریافت هزینه از کشتی‌های عبوری می‌تواند به «هرج‌ومرج کامل» در آب‌راه‌های بین‌المللی منجر شود. سپاه پاسداران روز پنج‌شنبه اعلام کرد که تنها مسیر مجاز برای عبور از تنگه هرمز، مسیریست که از سوی ایران تعیین شده و هرگونه تردد خارج از این چارچوب خطرناک و غیرقابل قبول خواهد بود. این موضع پس از آن مطرح شده است که عمان یک مسیر موقت دریایی را با هماهنگی سازمان بین‌المللی دریانوردی معرفی کرد؛ اقدامی که با واکنش تهران روبه‌رو شده است. در همین حال، مارکو روبیو، وزیر خارجه امریکا، هشدار داده است که اگر ایران از کشتی‌های عبوری از تنگه هرمز هزینه دریافت کند، این اقدام می‌تواند به الگویی برای سایر کشورها تبدیل شده و نظم آب‌راه‌های بین‌المللی را با چالش روبه‌رو سازد. روبیو در نشست شورای همکاری خلیج فارس در بحرین تأکید کرد که آب‌راه‌های بین‌المللی متعلق به هیچ کشوری نیستند و نباید برای عبور از آن‌ها هزینه وضع شود. تنگه هرمز یکی از مهمترین مسیرهای انتقال انرژی جهان به شمار می‌رود و پس از جنگ اخیر میان ایران، امریکا و اسرائیل، به یکی از محورهای اختلاف میان تهران و واشنگتن تبدیل شده است.